نوټ : هیله لرم چی اسلامی خلافت ته تړی ځوانان له مستجابو دعاګانو هیر نه کړی

# دواده لومړی شپه

۱۳۹۱/۴/۹

ستاسی د دعاء په هیله: راسب

دغه موضوع دو مره مهمه ده چې فکر کوم زما ځواب به ورته کافي نه وي تر دې وړاندې چې په دې هکله درسره خبرې وکړم دغه خبره مهمه ده چې داسلام په چوکاټ کې او له انساني اصولو سره سم دمیرمنو حق او حقوق باید خوندي وي او دیوې پښتنې میرمنې درناوي وشي او بله دا چې په ګډ ژوند کې تر ټولو مهمه مسله اعتماد دي که دواړه لوري پر یو بل اعتماد پیدا کړ په ژوند کې به لویو هدفونو ته ورسیږي دغه خبره هم له یاده مه باسه چې دګډ ژوند معني یوازې جنسي اړیکي نه وي بلکه یو انساني او لوړ هدف ته رسیدل وي زه به درته هم دطب او هم د ټولنپوهنې په رڼا کې ځینې لارښوونې وکړم ښایي ځینې ډاکټر صاحبان پر ما نیوکه هم وکړي خو په دې ډاډه یم چې پښتون ځوان دغوخبر ته ډیره اړتیا لري.

دواده شپه دګډ ژوند لومړنۍ شپه وي په تیره بیا په پښتني کلتور کې ډیر اهیمت لري او له اسلامي نظره هم یوه مبارکه شپه بلل شوې ده مبارکه په دې بلل شوې چې په روایتونو کې راغلي دي چې مومن په واده سره خپل نیم ایمان بشپړوي ځکه خو په اسلامي سرچینو او متنونو کې دې چارې ته ډیر درناوي شوي او اهمیت ورکړل شوي دي ویل کیږي په دې شپه دعا قبلیږي او پرښتې د ناوې او زوم لپاره دخداي رحمتونه نازلوي په روایتونو کې راغلي دي چې که څوک مقاربت او له خپل میړه یا ومیرمنې سره مقاربت له ادابو او دودونو سره سم ترسره کړي دغه چاره عبادت ګڼل کیږي او دغسې کسان ویل کیږي په یوه سنت عمل کوي.

ددې لپاره چې سمه جنسي اړیکه ترسره شي باید یو لړ اصول او اداب په پام کې ونیول شي حیوان او انسان دواړه جنسي تمایل لري خو انسان شعور لري او دغه

چاره باید له یو لړ ادابو سره تر سره کړي ددې لپاره چې یو ځوان او یا پیغله د واده په شپه دمقاربت په وخت له ستونزې سره مخامخ نه شي باید دغه اصول او رودې زده کړي په د غو اصولو کې د مقاربت سریزې ، دیوبل دعاطفي اړتیاوو پیژندل او هغوته پام کول ، دمقاربت دبیلابیلو لارو پیژندل ، دغه راز په دې پوهیدل چې څنګه له حاملګي مخنیوي کولي شي ، له مذهبي پلوه په ځینې مسلو پوهیدل لکه په غسل دمقاربت په شرعي اصولو پوهیدل ، دتناسلي غړیو په حفظ الصحې پوهیدل ، او دمقاربت په احتمالي ستونزو پوهیدل چې که ورسره مخامخ شي باید علاج بې وکړي دغه راز په سلګونو واړه او غټ ټکي شته چې دلته په ټولو خبرې نه شول کولای خو ددې لپاره چې په دې هکله بشپړ معلومات ترلاسه کړئ باید ورته پوره مطالعه ولرئ .

تر ټولو مهمه مسله دا ده چې په جنسي مقاربت کې باید دواړه لوري دجنسي خوند داوج ټکي یا ارګازم ته ورسیږي چې دبریالي جنسي اړیکې یوه اصلي نښه ګڼل کیږي خو له بده مرغه په پښتنې ټولنه کې دغې چارې ته هیڅ توجه نه کیږي په تیره بیا دمیرمنو خواهش له پامه غور ځول کیږي ځکه خو ګورو له چې له واده و روسته ډیرې رواني او جسمي ستونزې را برسیره کیږي په ډیرو هیوادونو کې په دې اړخ څیړنې شوي دي او وایي چې پنځه اویا په سلو کې کورنۍ مسلې په همدې چارې کې ریشه لري .

دجنسي خوند اوج ته رسیدل په نارینه او میرمنو کې توپیر لري او معمولاً نارینه تر میرمنې ژر ارګازم یا دجنسي خوند اوج ته ر سیږي ډیر نارینه دې مسلې ته متوجه نه وي او کله چې د وي ارضا او ارګازم ته ورسیدل نو خپل فعالیت پریږدي په داسې حال کې چې میرمن یې لا ارضا شوې نه وي که میرمن په دې حالت کې

خوشې شي حتي ممكنه ده دنس او ملا دردونه ورته پيدا شي او له رواني پلوه له ستونزو سره مخامخ شي نو ددې لپاره چې خاوند خپل ميرمن اړګازم ته ورسوي بايد تر هغه وړاندې ورسره مينه وکړي او د ميرمنې دحساسو برخو په پارولو سره هغه دغه کار ته چمتو کړي .

دغه خبره به څومره سمه وي خو ما په يوه ديني مطلب کې پيدا کړه او پکې راغلي وو چې هغه ميړه چې له مقاربته مخکې له ميرمنې سره مينه او معاشقه وکړي يعني ترمقاربت مخکې هغه وپاروي دخداي له ځانګړي لطف او مهربانۍ سره مخامخيږي .لکه چې په مسلمانانو کې دود ده د واده دشپې پيل او لومړنۍ خبرې که په ديني اصولو سره وشي ښايي په ټول ژوند کې بريالي وي ما دلته په اروپا کې له يو عرب امام څخه په دې هکله پوښتنه وکړه هغه رارته وويل غوره ده کله چې زوم کوټې ته ننوځي خپل لاس د ناوې په تندې کيږدي او دځان ، ناوې او راتلونکې بچيانو لپاره دغه دعا ولولي «اللهم بامانتكاخذتهاو بكلماتک استحللت فرجها ، فان قضيتلي منها ولدا فاجعله مسلما سويا ولا تجعله شرک شيطان اي خدايه دغه ميرمن مې له تا امانت اخيستې ده او ستا په کلمو مې حلاله کړه او که دې ميرمنې دې ماته اولاد راکړ هغه له برکتونو ډک او متقي وګرځوه او دشيطان لپاره ترې ګټه مه ورسوه ښايي ځينې کسان په دې هکله ډير معلومات ولري خو ما له بل چاپه دې هکله پوښتنه کړې که څه تيروتنه وي ما وبخښئ خو کوم سړي چې ما ته دغه معلومات راکړي ښه ملا او امام دې دغه ملا امام وايي غوره ده خاوند او ميرمن اودس وکړي بيا دې تکبير ووايي او دوه رکعته لمونځ دې وکړي او له هغه وروسته دې مقاربت وکړي .

دغه اسلامي دود یوه بله ګټه هم لري په تیره بیا دپښتنو لپاره چې خپله میرمن
ډیر ځله د واده په شپه ګوري او هغه دا چې په دې ډول له هغې سره دخبرو پلمه
پیدا کیږي او دعاګانې دواړو لورو ته روحیه هم ورکوي په هر صورت له دینې
مسلو چې ورتیر شو باید دغه یادونه هم وکړ چې نوې جوړه دپوهنتون محصلینو
ته ورته دي هغوي دژوند په کړلیچونو او لوړو ژورو کې لومړنې ګام اخیتسي وي
که له لومړۍ شپې دوي له خپلو تیروتنو درس واخلي ډیر ښه به پر مخ لاړ شي خو
د واده لومړنۍ شپه ممکنه ده په ټول ژوند اغیز وشیندې په دې برخه کې خاوند
ښه رول لوبولي شي دغه مسله په پرمختللوټولنو کې حل شوې ده خو زموږ په
ټولنه کې لاهم یو ه مسله ده کله چې د واده په لو مړۍ شپه میرمن او خاوند دیو بل
په وړاندې راځي له بده مرغه ډیري ځوانان یوازې جنسي مسلې ته متوجه وي او
دټول عمر لاره ورته نه ښکاري لږفکر وکړئ دغه میرمن به ټول عمر له تاسو سره
وي ښه به نه وي چې لږ ترلږه په لومړۍ شپه په جنسي مسلو هیڅ فکر مه کوئ
یوازې دغه شپه په مجلس او خبرو تیره کړئ او له ټوکو ټکالو بې پیل کړئ خپلې
میرمنې ته دخپل کور خصوصیات بیان کړئ او هغې ته روحیه ورکړئ چې په نوي
او پردي کور کې چې له دې وروسته ددې خپل کور دي خوشاله وي او له تاسو
سره ستاسو په هدف کې مرسته وکړي ځینې ځوانان د واده په شپه دجشن او د
واده په مراسمو کې دومره ډوب وي چې پوه نه وي څومره لوي مسولیت ورپه
غاړه دي د واده مراسم یوازې یوه ورځ وي اوس تاسو مجبوره یاست له یوبل سره
ګډ ژوند وکړئ له یو بل سره تعامل وکړئ غوره ده له لومړۍ شپې د یوبل ګډ ټکي
پیدا کړئ له دغه واده خوند واخلئ او د واده فلم بیا بیا وګورئ خو په ذهن کې
لوي تصویر دیو واقعي ژوند هم ولرئ.

ډير ځله په پښتني ټولنه کې خاوند او ميرمن له يو بله پوره پيژندګولي نه لري له همدې شپې هڅه وکړئ يوبل وپيژنئ يوه بله خبره چې پښتانه تل ورته اهميت ورکوي دا ده چې غواړي دا يوه ميرمن چې نوي کور ته راځي په خپل خوي او عادت بدله کړي خو دې ته متوجه نه وي چې ديوه انسان بدلول اسانه کار نه دي په تيره بيا هغه کسان چې ځوانان وي ژر نه بدليږي ښايي له شرم او حيا ستاسو ټولې خبرې ومني خو بدليدل يې ناشوني وي نو غوره ده خپله ميرمن اويا خپل خاوند په هغو خصوصياتو سره چې لري يې ومنئ که يې په زور هر کار ته مجبوره کړئ وروسته به ناوړه پايلې ولري او ستاسو په ټولې کورنۍ به يې اغيز جوت وي .

په پښتني ټولنه کې ترټولو مهمه مسله له خپلې کورنۍ سره دميرمنې اړيکې دي که دغه اړيکې خرابې شوي رغيدل يې سخت وي او په راتلونکو نسلونو هم بده اغيزه لري هڅه وکړئ دلته تعادل وساتئ او له لومړۍ شپې دې مسلې ته متوجه وئ .

هڅه وکړئ له خپلې ميرمنې او يا ميرمن له خپل خاوند سره بحث او خبرې وکړئ هيڅکله جنجال مه کوئ منطقي خبره کوئ او يو بل ته قناعت ورکړئ په خبرو کې کنټرول له لاسه مه ورکوئ.

ترټولو مهمه مسله دا ده چې اوس متاهل شوي ياست او بايد دمجردۍ فکر ونه پريږدئ دخپلې ميرمنې فکر کوئ او له ملګرو سره ناسته پاسته هم کنټرول کړئ که مخکې هر وخت شپه او ورځ له خپلو ملګرو سره وئ اوس دغه کار نه شئ کولاي ځکه چې دبل چا مسوليت هم درله غاړې شوي دي .

لکه چې مخکې وويل شول لومړۍ شپه ډيره مهمه ده او ممکنه ده خاطره يې ټول عمر له تاسو او يا ستاسو له ميرمنې سره وي هيڅ تېنګار مه کوئ چې په لومړۍ

شپه دې مقاربت وشي سمه ده چې دا مقاربت مهم او نوم يې جنسي اړيکه ده خو ډيره روحي او رواني مسله ده په تيره بيا دا چې ميرمنې په دې وخت سخت روحي فشار لري هغه درک کړئ او دا خبره طبيعي هم ده چې ښايي ونه غواړي له تاسو سره څملي ځکه چې ويريږي دغه ويره بايد تاسو ورته ختمه کړئ او هغه چمتو کړئ له زوه کار مه اخلئ دودونه و دستورونو چې دير يې غلط دي شاته پريږدئ ښايي دغه چاره لس ورځې هم وخت واخلي آرامش ولرئ.

يو ځل بيا ټينګار کوم ارامش ولرئ په يوه ښه مجلس او خبرو سره اړيکه پيل کړئ او بيا ورو ورو ځان ورنيژدې کړئ که له مينې او پارولو وروسته جنسي اړيکه ټينګه کړئ دواړه لوري به ترې خوند واخلي ممکنه ده ميرمن خونريزي او درد ولري او ښايي دواړه دغه حالتونه موجود نه وي وارخطا کيږئ مه ( په دې هکله په يوې بلې ليکنې کې هم ځينې مسلې بيان شوي له هغه هم استفاده کولي شئ ).

دجنسي اړيکې په وخت له زوره کار مه اخلئ او پر ميرمنې فشار مه اچوئ غوره ده له لبريکا ټ موادو استفاده وکړئ.

دغه خبره هم بايد وکړو چې ميرمنې د لومړني جنسي مقاربت په وخت دوه ډوله دردونه زغمي يو دبکارت دپردې درد دي او بل د نارينه دجنسي الت د دخول له امله درد دي ځکه چې مهبل کشيږي او دا په خپله درد پيدا کوي ددې لپاره چې دغه درد کم وي غوره ده چې معاشقه او مينه وشي حتمي نه ده چې له مينې وروسته دي جنسي اړيکه ټينګه شي له څو ورځو معاشقې وروسته هم دغه کار کولي شي خو په داسې وخت يې ترسره کړئ چې ميرمن دجنسي خوند اوج ته رسيدلي وي دغه کار به درد کم کړي دويم ډول درد چې د مهبل له کشښه پيدا کيږي هم سخت وي ځکه چې مهبل دلومړي ځل لپاره کشيږي دغه درد هم له

معاشقې وروسته کمېږي دغه راز له لوبریکانټ ( ښویدونکو ) موادو هم استفاده کولای شئ .